آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۲/۰۲

# بله خوا مه ځه، تاج محل ته راشه

دا لار ازغنه ده
ستا پښې نازکې
دا فکر ځیږ دی
ستا خیالونه پاسته

***

هغه لار پرېږده
زما ګوګل ته راشه
بله خوا مه ځه !
تاج محل ته راشه

***

چې دې خیالونو او نازکو پښو ته
لارو کوڅو کې ګلان وغوړوم
د غزل تورو سره سترګې فرش کړم
د زړه په بڼ کې مې تسل ته راشه
بله خوا مه ځه !
تاج محل ته راشه

۲۰۱۶/۱۰/۱۷ هیدرسلیف ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ